انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۱/۱۹

# سیاسي، مذهبي او .... رنځوران!

کله چې په انسان باندی د هغه نفسي او د ننني غوښتني زوراوري شي، کله چې انسان د هغو حدوداتو نه چې د هغه د اوسیدو چاپیریال، د ټولنیز ژوندانه اصولو، عقیدوی مقرراتو او جغرافیه وی پولو ورته تعیین کړی او ټاکلی دی، سر غړونه وکړي، مات یې کړي او هغه د پښو لاندی کړی، نو بیا داسی انسان یا انسانان که هر څومره ځانته په پوهه او علمیت قایل وی او داسی فکر کوی چې ګوندی په هر څه پوهیږی، خو حقیقت دادی چې دارنګه کس یا کسان په هیڅ نه پوهیږی او د عقل له هغی احاطی نه چې یو نورمال انسان په هغی کی دننه ژوند کوی او انسانی اړیکو ته په درنه سترګه ګوری بهر شویدی.

ما یو څه موده پخوا هم په یوه لیکنه کی چې په همدی پورتال کی نشر شویده، دی ټکی ته اشاره کړی وه چې د روانی زمانې د تکنالوجیکی چټک پرمختګ په نسبت د نړی موجود سیاسي او ټولنیز زعامت ډیر کمزوری او نا توان دی او نه شی کولی چې دا پر مختللی تکنالوجی په سمه او معقوله بڼه د بشریت د ښیګڼي د پاره په کار واچوی ترڅو د بیلو سیمواوسیدونکی، د بیلو عقایدو پیروان، د بیلو ژبو ویونکی، د بیلو رنګونو لرونکی او د بیلو سیاستونو طرفداران ټول د هغی څخه په معقوله او مناسبه توګه د ژوندانه په جوړښت او د اړتیاو په رفعه کیدو کی برخه من شی.

راځی په لنډه توګه په ننني انساني ټولنه کی د نړئ سیاسی جوړښتونو ته نظر واچوو او وګورو چې دا سیاسی جوړښتونه څومره د روانی زمانی انسانی ستونزو ته د حل لاری میندلی شی؟

ـ کمونستی سیاسی جوړښت: دا سیاسی جوړښت چې په نولسمه پیړی کی د مارکس او انګلس د نظریاتو او تحلیلونو نه را ووت او بیا د لینن او ماتستونګ د کمونستی ډلو له خوا لومړی په روسیه، بیا په چین او د دویمی نړیوالی جګړی وروسته د شرقی اروپا په هیوادونو او د ساړه جنګ په جریان کی یی په ځینو نورو اسیایی، افریقای او د لاتینی امریکا په وروسته پاتي هیوادونو هم د نظامی لارو څخه قدرت ته ورسیدل او د ټولنیز واک یی په لاس کی ونیو، تر ټولو د مخه یی د شخصی مالکیت د له منځه وړلو او په دویم قدم کی یی د ټولو ادیانو سره (اسمانی ادیان و او که وضعی ادیان) دښمنی اعلان کړه، وروسته یی په نورو ټولو سیاسی جوړښتونو باندی د بطلان کرښه راکش کړه، بیایی د هرډول آزادیو مخه ونیوه او بلاخره ټول هغه انفرادی وګړی او هغه سیاسی ډلی چې د دوی دوکتورینو په وړاندی به یی حتی نظر هم وړاندی کړلو سزایی محوه او نابودی وه. په دی توګه دی سیاسی جوړښت کی هر څه او په ټولنه کی د ټولو شتمنیو مالک یواځی کمونیست پارټی، د همدی پارټی مرکزی کمیټه او سیاسی بیرو او په نهایت کی د ګوند عمومی منشی و او بس. دا جوړښت چې د زحمت کشانو، کارګرانو او دهقانانو د پوره آزادی، پرمختګ او د تولیدی وسایلو او د مادی نعمتونو د اصلی واکمنانو په نوم را منځ ته شوی و، د قدرت تر حصول وروسته د



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

مطلقی دکتاتوریٔ او د استخباراتو د دوزخی سازمانو له خوا په داسی غیر انسانی خورښت بدل شو د غلامی په دوره کی هم دومره استبداد نه دی ثبت شوی.
ددی سیاسی نظام جوړښت ځکه ډیر عمر ونه شو کړلی چی رهبری یی دو مره بیکاره ، بی کیفایته، مغروره او لیونی وه چی هیڅکله یی د خپلی ټولنی د اتباعو ستونزو ته نه یواځی داچی ځواب ونه شو ویلی بلکی، د هری ورځی په تیریدو سره یی هم خپلی ټولنی او هم نورو بشری ټولنو ته دومره نوی ستونزی رامخی ته کړی چی د حل یواځنی لاره یی د همدی ضد انسانی سیاسی جوړښت له منځه تلل او نابودی و پیژندل شوه او د شوروی اتحاد تر ړنګیدو وروسته یی اوس په ټوله دنیا کی کمپله مخ په ټولیدو ده.
ــ پانګه وال سیاسی جوړښتونه: دا جوړښتونه چی د فیوډالی سیستم له نس نه راوتلی دی په حقیقت کی په عمده توګه د اوسنی نړیٔ هر اړخیز کنترول په لاس کی لری. همدا پانګه او پانګه وال سیستم دی چی د نړیٔ د ټولو لویو وچو په هیوادونو کی په هر ډول چی وغواړی په هماغه توګه سیاسی نظام او جوړښت منځ ته راوړی او هم یی له منځه وړی، د دی سیستم بنیاد او اساس په دی ولاړ دی چی شتمن هیوادونه په مجموع کی او د دی هیوادو په منځ کی په تر تیب سره د ډیری شتمنی لرونکی هیوادونه لا پسی شتمن او نادار هیوادونه د خپلی پانګی د زیاتیدو په خاطر ځرنګه لازیات پسی وزبیخی او د هغوی ټوله یواځی مادی نه بلکی معنوی شتمنی هم خپله کړی، ولاړ دی. د دی هدف د پاره د پانګه والی سیستم داسی سیاسی جوړښت را منځ ته کړی او د عوامو د غولوني اوتیر ویستني د پاره یی داسی یو میتود په کار اچولی چی په دوی باندی یی د اعتراض او انتقاد اندازه تر ډیره حده پوری را ټیټه کړی او هغه ته یی نوم ورکړی دموکراسی . چی معنی یی ده (هغه سیستم چی د ټولنی د ټولو خلکو ونډه پکی د هغوی د نماینده ګانو د ګډون له مخی تامین شوی وی) او همدارنګه د ټولنی هر غړی پکی د وضعه شوو قوانینو په د ننه کی د خپل استعداد د ځرګندلو او د نظر د وراندی کولو حق او آزادی ولری. د تعریف له مخی دا سیاسی جوړښت د انسانی ټولنو د پر مختګ او د ټولنیز ژوندانه د سمښت او جوړښت د پاره یو مناسب، په زړه پوری او د منلو وړ سیستم دی، خو له بده مرغه د عمل په میدان کی له بنیاد نه تر اخری پوړیو پوری د ظلم، استبداد او د مجبور انسان نه د ناروا او نا جایزی ګټی په پورته کوني (استثمار فرد ازفرد) باندی ولاړ دی. د پانګه والی سیستم د دی سیاسی جوړښت د ساتنی، ژغورنی او رواجونی د پاره د ټولنی غړی دی ته هڅوی چی د مشخصو برنامو په جوړولو سره سیاسی ډلی او ګوندونه جوړ کړی او په ټولنه کی د ټولنی د پاره د ښو خدمتونو د سرته رسولو له لاری ځانته ځای و مومی. کله چی خبره دی ځای ته را ورسیږی چی یوه سیاسی ډله په ټولنه کی د ټولنیز اعتبار د لاسته راوړلو د پاره مبارزی ته اړتیا لری نو همدلته دی چی د دی باور د لاس ته رووړلو د پاره د سیاسی ډلو غړی په پراخه پیمانه او لوی مقیاس درواغو، دوکو،غولونکو وعدو، غداری، د مقابلو ډلو په کمولو او سپکولو لاس پوری کوی او په دی برخه کی د ومره د افراط تر حده پوری رسیږی چی ټول ټولنیز قوانین او حدودات د پښو لاندی کوی او د هغو دماغی رنځورانو یا لیونیو په صف کی ور داخلیږی چی د کنترول د پاره یی د زنځیرونو نه کار اخستلی شی.
په غربی دموکراسی کی په ظاهری بڼه هرډول تبعیض ، کرکه او د نورو آزادیٔ ته زیان رسول د هغی د اصولو نه یو خلاف عمل دی، خو په عمل کی د همدی دموکراسی ساتونکي او تطبیقونکی پلوی طاقتونه د هغی ټول هغه اساسي اصول چی د دوی د طبقاتی ګټو په خلاف وی د پښو لاندی کوی او ملامته یی بیا په هماغو اړخونو ور اچوی چی د دوی د ناروا ګټو په وړاندی را پورته شوی او د همدی دموکراسی د اصولو تطبیق غواړی. د دی ادعا د ثبوت د پاره د انسانی نړیٔ روان حالات د شمالی افریقا نه نیولی تر د لری ختیځ پوری، د خلیج په هیوادونو، منځنی آسیا او د

منځني ختيځ په هيوادونو کی او همدارنګه هغه زړه بوګنونکی پيښي چی په تيرو څو کلونو کی د شمالی امريکا او اروپايی هيوادونو کی په پرله پسي توګه را منځ ته شوی او هغه ويره چی همدا اوس د دی سيمو د اوسيدونکو په زړه کی پرته ده، دا را وښای چی د پانګه والی د سيستم دوکتورين د يوی سالمی انسانی ټولني د جوړيدو سره ، چی هلته دهر انسان، انساني کرامت خوندی پاتی شی څومره لوی واټن لری ؟ او د همدا سيستم څومره د انسانی ټولنو تر منځ د سالمو اړيکو، د جوړيدو، نه يواځی مخنيوی کوی، بلکی دی اړيکو ته څومره زيان او تاوان رسوی؟؟

که څه هم د غربی دموکراسی پلويان ادعا کوی چی د دوی سياسی بهير د مذهبی، نژادی ، ژبنيو او نورو د تاثيراتو نه آزاد او بيل دی، خو داتش يوه هسی خبره او وينا ده چی هيڅ حقيقت نه لری. د دی خبری په نه حقيقت باندی هغه کسان چی همدا اوس په غربی نړی کی ژوند کوی ډير ښه پوهيږی او د سر په سترګو وينی چی د دوی د ټولنيزو اړيکو په برقراريدواولغوه کيدوکی د دويمذهبی مرکزونه چی کليسا يی نمايندګی کوی څومره پراخ لاس او واک لری؟ حتی په غرب کی ټول محافظه کار يا (Church)، په شديده توکه د همدی مذهبی مرکزونو د سياسی برنامو دتطبيق د سياسی ګوندونه Conservative د پاره جوړ شوی او تقريباُ ټوله کاری بودجه يی هم د چرچ له لوری تهيه کيږی. دوی نه يواځی د خپلو مذهبی برنامو د عملی کولو د پاره په خپلو ټولنو کی کار کوی بلکی په ټوله نړۍ کی د ځينو خيريه موسسو له لاری لګيا دی د خپل مذهب يا عيسويت د پاره کار کوی. ( د ځينو نا تائيد شوو معلوماتو له مخی، افغانی ټولنه چی ۹۹،۹۹ سلنه خلک يی د اسلام د دين پيروان دی اوس پکی د څلور زره کورنيو نه زياتی کورنی عيسوی مذهب ته اغوښتی دی) او د ډيری خواشنی خبره خو داده چی د ا کسان چی خپل مذهب يی پريښی او عيسوی مذهب ته ا غوښتی دی، د دی له کبله نه دی اغوښتی چی ګوندی دوی د اسلام د مذهب په نسبت د عيسويت مذهب معقول ګڼلی، نه ، داسی نه ده، بلکی د دی کورنيو له اقتصادی ناتوانيو او تنګ لاسی نه دا ناروا ګټه پورته شوی او د اقتصادی مرستی د ورکولو په بنياد يی دوی له خپل مذهب نه اړولی دی. او دا حال د ټولی دريمی نړۍ په هيوادونو کی جريان او دوام لری.

اوس نو له دی ځايه سړی پوهيدلی شی چی ايا په رښتيا سره هم د دوی دموکراسی د هرډول مذهبی، نژادی اونورو له تاثيراتو نه خلاصه ده؟

ـ سياسي او مذهبی ګډ جوړښتونه: دا هغه ډول ټولنيز نظامونه دی چی نه په مکمله توګه د دمو کراسی اصولوته پابندی لری او نه په مکمله توګه مذهبی اصولوته. دا ډول نظامونه په عمومی توګه په اسلامی هيوادونو کی برقرار دی او دا هم له دی کبله چی په نورو اديانو کی لکه د اسلامی شريعت په څير هسی قوانين چی د دنيا يی کارونو انتظام پری وشی وجود نه لری. په ټولو اسمانی او وضعی اديانو کی اسلام يواځنی دين دی چی د ژوندانه د هری برخی د پر مخ بيولو دپاره د شرعيت په نوم ځانګړی اصول او احکام لری او شايد همدا به يو دليل وی چی الله ج فرمايی چی (... دين مو تاسو ته مکمل کړ) د دی معنی زه داسی تعبيروم چی په انسانی ژوند کی داسی کوم اړخ نه دی پاتی شوی چی په هغی کی د اسلام د دين په اصولو کی يوه غوڅه عملی لاره نه وی ښول شوی. خوداچی نن ورځ په همدی اسلامی نړۍ کی د نوری ټولی دنيا په انډول ستونزی او نا خوالي زياتي دي دا له همدی کبله دی چی د دوی زعا متونو، نه د اسلام د اصولو سره سمی خپلی ټولنيزی چاری تنظيم کړلی شوی او نه د دموکراسی د اصولو سره او نه په دی توانيدلی دی چی دواړه روشونه سره همغږی کړی او د خپلو ټولنو د ابادی په لاره کی تری کار واخلی. همدا دوه نا مکملی لاری د دی سبب جوړ شوی چی د اسلامی هيوادونو په چارو کی د پانګه وال نظام چلونکو ته دلاس غزونی زمينه برابره کړی او د خپلو هدفونو د پاره د دی ټولنو د اداره کيدو د پاره هسی ضعيف او

ناتوانه زعامتونه جوړ کړی چی د خپلو ټولنو پر ځای د خپل ځان او د خپلو نړیوالو ملاتړو د ګټو د پاره زمینه برابره کړی او کار وکړی. کله چی دا ناتوان او یا په بله اصطلاح ګوډاګی واکداران نور د دی وړتیا ونه لری چی په خپله ټولنه کی د دوی ګټی خوندی کړی، د نورو لارو په کار اچولو سره ان تر مستقیمی مداخلی پوری ځانته حق ورکوی چی دا زعامتونه له منځه یوسی او نوی څیری په نوو طریقو سره را منځ ته کړ او په دی توګه خپلو موخو ته ځانونه ورسوی. چی د په دی برخه کی د مثال را وړلو ته کومه اړتیا نشته او هر چا ته دا موضوع د لمر په شان روښانه ده.

د پانګه والی د سیستم چارواکی په ډیر دقت سره د دا ډول دوه اړخیزو (سیاسی ـ مذهبی) جوړښت لرونکو ټولنو په منځ کی د خپلو هدفونو د تحقق د پاره د داسی اشخاصو په لټه کی کیږی چی تر ټولو د مخه په سیاسی او مذهبی لحاظ رنځور او مریض وی او په دواړو برخو کی د افراطیت د طریقو طرفدار وی، حریص وی، احساساتی وی او د قدرت د تر لاسه کولو د پاره د ماکیاولیزم د فلسفی پیرو وی (Machiavelli’s Theory) . دوی په هره ټولنه کی د خپلو جاسوسانو په مرسته د زیاتو پیسو په لګولو سره داسی کسان په نښه کوی، ورو ورو ورسره کار کوی ، د هغوی ضعیفی او کمزوری اړخونه تشخیصوی او بلاخره یی دی ته اړباسی چی د خپلی شخصی ګټی د تر لاسه کولو د پاره یی د ملی او ټولیزو ګټو په وړاندی ودروی او د ځانګړو قرار دادونو په لاسلیک کیدو سره یی د تل د پاره خپل خدمتګار ګرځوی، چی تاریخونه پری ډک دی.

کله چی دوی دا ډول اشخاص د عمل کولو صحنی ته را کش کړل نو بیا ورته پراخه مادی امکانات برابروی، چی نور ملګری پیداکړی، سیاسی، مذهبی او نوری ایدیالوجیکی ډلی ټپلی او باندونه جوړ کړی او په هره وسیله چی ممکنه وی دوی په هماغی مشخصی ټولنه کی واک او قدرت ته ورسوی.

همدا اوس په اسلامی نړۍ کی په ډیر لوی اکثریت سره ټولی هماغه ډلی ټپلی په قدرت کی دی او د ټولنو ټولواکي دی چی د غرب د پانګه والی د سیستم سره په نیغه توګه اړیکی او تړاو لری. دا خبره هم پوره څرګنده ده چی په دی برخه کی سره له دی چی پانګه وال هیوادونه د شریکو ګټو د لرلو له مخی د سره ورته او مشابه دریځ لرونکی دی خو د دی ورته والی سره سره بیاهم په خپلو منځونو کی د نظر اختلاف لری او یو د بل په وړاندی خصمانه دریځ غوره کوی. د مثال په توګه په پاکستان کی د امریکا د متحده ایالاتو او انګلستان د دولتونو تر منځ ډیری ستونزی شته چی یو هم نه شی کولی په دی ملک کی یواځی د ځان په ګټه زعامت ته د دی ولس د خلکو سر نوشت ور وسپاری، همدا دستی په سوریه کی د روس او امریکا تر منځ تر وسله وال مخالفت پوری د مبارزی سنګرونه ګرم دی چی د دی سیالیو اصلی قربانیان د سوریی د هیواد بی ګناه وګړی دی، په افغانستان کی یی د کینو افراطیونو یعنی د پخوانی شوروی او چین د کمونستو رژیمونو د پیروانو او پلویانو په مقابل کی د اسلامی افراطی ډلو ټپلو سازمانونه را ایجاد کړل او د شوروی تر وسله والی مداخلی وروسته ورته دا زمینه برابره شوه چی د پاکستان په خاوره کی اوه او دایران په خاوره کی د اتو بیلو بیلو تنظیمونو په جوړ ولو سره د شوروی د هیواد نه په ویتنام کی د خپلی ماتی غچ واخلی، په عمل یی لاس پوری کړ. د دوی په لاس د جهادی جوړو شوو ډلو تر بری او د شوروی اتحاد تر ماتی وروسته په سیمه کی د نوو هدفونو د تر لاسه کولو د پاره نوی طرحی جوړی شوی چی دا طرحی د جهادی اوه ګونو او اته ګونو تنظیمونو په وجود کی نه شو پلی کیدلی نو نوری ډلی یی لکه د القاعده سازمان او طالبان یی را پیدا کړل او په کاریی پیل وکه. د طالبانو د ظهور په وخت کی غربی نړۍ ته دا خبره هم روښانه شوی وه چی د افغان ولس د پاره دا د پاکستانی مدرسو تنکی ځوانان طالبان د دی نارام ملک د اداره کیدو نه عاجز دی نو د پخوانی پاچا له

وجود او نوم نه یی هم د یوه تجربه کار بیروکرات په توګه استفاده وکړه او عوامو ته یی دا روحیه ورکړه چی دا هغه قوت دی چی زوړ زمامدار به بیا قدرت ته ورسیږی او په دی توګه به دی اوږدی غمیزی ته د پای ټکی کیښودل شی.خو ولیدل شو چی دا کار هم ونه شو او په طالبانو یی داسی اعمال سرته ورسول چی د اسلام مبارک دین څه چی حتی د لیونیو په دنیا کی هم چا نه و لیدلي چی تکرار ته یی اړتیا نشته.

د سپتمبر د یوولسمی نیټي تر ترخی پیښی وروسته، نه یواځی په افغانستان کی بلکی په ټوله دنیا کی د لوبي بڼه بدله شوه او د سر مایی دیو، ځان ته د دی حق ورکړ چی په مستقیمه توګه د هغه قوت سره د مبارزی ډګر ته ورداخل شی چی پخپله یی را منځ ته کړی و. هماغه و چی د متحده ایالاتو په مشری دا کرت ټوله پانګه واله نړی چی د ناټو په نظامی تړون کی سره تړلی وه خپلو ټولو کړو وړو ته د قانونیت ورکولو د پاره د جوړ کړی نړیوال سازمان یعنی ملګرو ملتو په تائید سره د طالبانو او القاعدی د زپلو د پاره افغانستان ته ور ننوتل او ورسره سم یی په دی غمزپلی او جنګ وهلی هیواد کی په دی بیچاره ولس باندی هسی تباه کونکی ګزارونه وکړل چی د روس د سرو وحشی لښکرونه په هیڅ وجه نه کم ول او نه کمزوری.

د طالبانو تر ماتی وروسته یی هلته بیا یوه داسی بی کیفایته، ناتوانه او نوکره رهبری را منځ ته کړه په ټوله نړی کی یی له هره پلوه د آخر له خوا یا اول اویا دویم او یا دریم مقام وګاټه.

لوبه لا روانه ده او نه یواځی زمونږ په ملک افغانستان کی بلکی په سمه نیمه دنیا خصوصاُ اسلامی هیوادو کی، انسانان د همدی سیاسی ــ مذهبي رنځورانو د لاسه چی واکی یی د پانګه والی د سیستم د چلونکو په لاس کی دی د اور په لبو کی سوځی او داچی دا اور به کله مړ شی او یا به یی لمبی کله ټولی دنیا ته ورسیږی، هغه پوښتنه ده چی وخت به ورته ځواب و وایی. خو دا چی تر دی ځواب میندنی پوری څه باید وشی هغه پوښتنه ده چی د اسلامی هیوادونو موجود زعامتونه یی باید ژر تر ژره ځواب کړی او د هغه مکلفیت له مخی چی لوی الله ج د مشرانو په توګه د دوی تر غاړی کړی ادا کړی، او خپل ملکونه او د خپلو ملکونو خلک د دی لګیدلی اور په لبو کی له سوځیدو نه وژغوری.

(پـای)